# شعر پوهنه

پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون

شعر پوهنه

پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون

۱۳۹۹ هـ. ش

# Poetry Comprehension




By: Dr. Lalpacha Azmoon

2021

ISBN 978-9936-661-16-5

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

دبشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو ریاست

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# شعر پوهنه

پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون

۱۳۹۹هـ . ش

## کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** شعر پوهنه

**لیکوال:** پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون

**اېډېټر او مهتمم:** سیدنظیم سیدي

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل - افغانستان

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹ لېږدیز - لمریز / ۲۰۲۱ زېږدیز

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**د لیکوال برېښلیک:** lalpachazmoon@gmail.com

**گرځند:** ۰۰۹۳ - ۷۰۰۶۰۰۵۶۴

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٦۱-۱٦-۵

**د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

**ډالی:**

د کندهار، هلمند، فارياب، فراه، بلخ، بـــدخشان، تخـار، کنـدوز او بغـلان پوهنتونونـو ځوانو استادانو ته چې دغه لړۍ وغځوي او په خپلې کره کتنې روان بهير کره کړي.

# د سر خبرې

دغه کتاب (شعرپوهنه) چې ستاسې لاسونه ښکلوي، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو دوکتورا د دویمې دورې سکالرانو ته د بحثونو په موخه لیکل شوی دی.

د دوکتورا مسؤلینو په تېره د ادبیاتو پوهنځي رئیس دوکتور محمد اسلم نسیمي ما ته دا دنده وسپارله چې د دوکتورا په دویمه دوره کې د شعرپوهنې مضمون تدریس کړم. ما ته ډېره گرانه وه او ده ته مې هم وویل چې زه د دې جوگه نه یم چې په دومره لوړه کچه تدریس وکړم، خو نسیمي را ته وویل؛ ستا په باب ما په ماسټرۍ او لېسانس کې څېړنه کړې او ستا له درسونو نه شاگردان راضي دي. ما ور ته وویل؛ یو راضي کېدل دي او یو زما خپله پوهه ده. زه دومره پوهه نه لرم چې د دوکتورا له محصلینو سره یې شریکه کړم. نسیمي وویل؛ دا به یو کار شي او ته به د شعرپوهنې په برخه کې، لکه څنگه چې دې نورو برخو کې کار کړی او په دې برخه کې دې هم څه ناڅه خورې ورې مقالې لیکلي، نو یو کتاب به برابر کړې او دا به د راتلونکې لپاره کار اسانه کړي.

له نسیمي سره مې هوکړه وکړه، توکل پر خدای. دا را ته ډېره گرانه او ستونزمنه وه چې د دوکتورا په ټولگي کې ودرېږم او د ښوونکي په توگه دنده ترسره کړم. د دوکتورا په دې دوره کې داسې کسان وو چې هغه زیاتره د معتبرو پوهنتونونو وتلي لوړرتبه استادان او د څېړنې او تحقیق د ډگر لوی لیکوال وو، نو دوی ته درس ورکول ستونزمنه خبره وه، کله چې ټولگي ته لاړم، نو له سکالرانو سره مې خپله ستونزه شریکه کړه. سکالارانو زما اندېښنه بې ځایه وبلله او ویې ویل: دا ښه دی چې دلته بحثونه وشي. بحثونه گټور دي، اصلا دکتورا همداسې وي چې یو له بله سره په گروپي بڼه پکې نظرونه شریک شي.

بحثونه شروع شول، خبره د شعر د نامه له (شین) نه را پیل شوه. بحثونه ورو ورو تودېدل او گرمېدل. خوندور وو، خوندور په دې وو چې یوې بېلې دنیا ته داخل شوو او هغه دنیا د شعر دنیا وه، د ژوند دنیا وه، د رنگینیو دنیا وه، د بحثونو دنیا وه او د نظرونو دنیا وه. یوه ښکلې له لطف، نزاکت او مهربانۍ ډکه دنیا وه، د مینې او بشریت دنیا وه، د دې دنیا رنگارنگي او ښکلا دومره زیاته وه چې له ما یې نورې خبرې هېرې کړې؛ پخوانۍ لیکنې مې را واخیستې او هغه مې له نظره تېرې کړې او ور سره د شعر په باب چې کومه لیکنه مخې ته را تله، هغه مې هم لوسته. له ځان سره مې بحثونه یادښت کول. کله به چې ټولگي ته تلم، نو یو څه به را سره وو چې له سکالرانو سره پرې بحث وکړم. موضوع به مې را منځته کړه، سکالران به پرې و غږېدل، د دوی غږېدا او بحثونو د خوند او رنگ دینا را منځته کړه.

دا بحثونه ډېر په زړه پورې وو؛ د بحث چرګی توده شوه، په زړه پورې والی یې همدا و چې زه بیا د شعر په دنیا ور ګډ شوم، بیا را باندې شاعري را وورېده، د شعر رنګینې دنیا ته مې مخه شوه. د دغو بحثونو په بهیر کې به هم را باندې کله نا کله منظومه جمله را ورېده، هغه به مې هم لیکله. بحثونه ډېر خواږه وو، خو ستونزمن او له کړاوه ډک هم وو؛ هغه دا و چې دغه بحثونه زیاتره په ارواپوهنې پورې مربوط وو. ارواپوهنې کې هم زما مطالعه کمزورې وه، خو بس هغه خپل تاثر مې ویلې، په دې ټولګي کې داسې سکالران هم وو چې هغوی له ارواپوهنې سره بلد وو. د ارواپوهنې په برخه کې مې هم څه ناڅه مطالعه وکړه.

د شعر د کیفیت سپړنه رواني بحثونه دي. شعر په خپله یو رواني اغېز دی. شعر د انسان ښکلاییز ذوق را پاروي یا د ښکلاییز ذوق اوډنه ده. په شعر کې د شاعر ظاهري او باطني حواس شامل دي؛ له طبیعته رنګیني اخلي او بېرته یې د خپلو ذهني او نفسي کیفیتونو سره ملګرې کوي او په یوه نوې بڼه یې ټولنې ته وړاندې کوي؛ دغه بڼه شعریت او تخییل دی.

داسې بحثونه ډېر مخې ته راغلل، خیال څه شی دی؟ تصور څه شی دی؟ صور څه شی دی؟ تخیل څه شی دی؟ تخییل څه شی دی؟ تصویر، فکر، تفکر، تفکیر، احساس، عاطفه؛ دا او دې ته ور ته نور توکي چې زیاتره د شعر ښکلاییز او کیفي توکي وو. دا به مې هر وخت په مغزو کې ښکته پورته کول. اړول را اړول مې او له ځانه سره به پرې بوخت وم. په زړه پورې دا وه چې دغو بحثونو هم نه پرېښودم، پر دې پوه شوم چې د ښکلا او کیفیت په دنیا کې مې اړولي دي. تر بل هر کار او خبرې په دې دنیا کې پاتې کېدل را ته ارزښمن ښکاره شول.

د شعر کیفیت د دې توکو (تشبیه، استعاره، سېمبول، مجاز، کنایه، اسطوره، پاراډوکس، حسن تعلیل او...) په اوډون کې نغښتی و، دا برخې هم په زړه پورې وې، له شعر سره بلد شوم، اسطورې مې ولوستې، د اسطورو یوه بېله دنیا وه او د اسطورو په دنیا کې ادبیات مطالعه کېږي.

ټولګي کې پر دغو مسایلو باندې بحثونه کېدل او زما معلومات او مطالعه یې نوره هم پخوله. دغه بحثونه مې ځان سره یوازې او یوازې په کتابچه کې یادښت کړي وو، خو په منظمه توګه مې لیکلي نه وو. په ځینو نورو اثارو کې چې هغه د نظم او انځورونو په باب لیکل شوي وو، په هغو کې مې څه بحثونه هم کړي وو، هغه بحثونه ډېر ابتدایي وو او پر هغو بحثونو یوه کره کتنه په کار ده.

نو د خپلو یادښتونو پاڼې مې را واړولې، داسې زمانه راغله چې یوه واړه ویروس (کرونا) چې په سترګو نه ښکارېده، ټول یې په کور کېنولو، ګوښ ناستی شو، ځینې ور ته کرنتین وايي، زه ور ته ګوښ ناستی وایم.

ما ځان د ادب په دنیا کې خښله کړ، کتابونه مې ځانته پنډ کړل، ښه منظمه مطالعه مې شروع کړه. په ګوښ ناستي کې مې یوازینۍ مصروفیت بیا د ادب دنیا ته مخه کول وو، د ادب په رنګینیو کې ګرځېدم، په دې نه پوهېدم چې چېرته یم، له خلکو لرې یم، که نه یم؟ خلکو کې وم، لفظونو کې وم، کلمو کې وم، ترکیبونو کې وم، رنګارنګۍ کې وم؛ د رنګونو په خوږه دنیا کې وم، یوې داسې دنیا کې وم چې ځان مې یوازې نه محسوساوه. ډېر ملګري را سره وو، خواږه یاران را سره وو، را سره غږېدل، تصویرونه وو، تېر ژوند و، اوس ژوند و، د راتلونکې په باب فکر و، د تېر ژوند خواږه وو، مجلسونه وو، رنګونه وو، ډول ډول خبرې وې؛ زما ذهن یې ډېر مصروف وساته او د هغه مصروفیت له مخې مې «شعرپوهنه» ولیکله. دا کتاب زما د ګوښ ناستي د مهال یوه لاسته راوړنه ده.

هر کتاب کمزورۍ او نیمګړتیاوې لري، دا کتاب «شعرپوهنه» هم ترې خالي نه ده؛ زه هیله من یم چې دا کتاب د ادیبانو او لیکوالو ترمنځ د بحث یوه چرګۍ وګرځي او دغه بحثونه په خپلو نظرونو لا قوي او غښتلي کړي، بیا دغه بحثونه را ټول کړي، د بحثونو په پای کې موږ یوې ښې پایلې ته رسېدلی شو. یوازې او یوازې تر دې کتابه خپل فکر منحصر نه کړي، بلکې د دغې موضوع د لا سپیناوي او مطالعې په برخه کې خپل نظرونه را سره په شفاهي او لیکنۍ بڼه شریک کړي، په دې کار سره به موږ په را تلونکې کې د ادبیاتو او په تېره د شعرپوهنې په برخه کې د ډېرو معتبرو کتابونو خاوندان شوو. هیله من یم چې د خپلو نظرونو، کره کتنو او فکر نه مې بې برخې نه کړئ.

په همدې هیله

ازمون

# لیکلړ


**د سر خبرې.............................................................................أ**

**سریزه.............................................................................۱**

د موضوع ارزښت.............................................................................۱

د موضوع پوښتنې .............................................................................۲

اصلي پوښتنې .............................................................................۲

فرعي پوښتنې:.............................................................................۲

د سکالو شالید.............................................................................۳

**۱. شعر پوهنه.............................................................................۹**

پیلیزه.............................................................................۹

۱. ۱. د شعر پوهنې پېژندنه.............................................................................۹

۱. ۲. د شعر فلسفه .............................................................................۹

۱. ۳. شعرپېژندنه.............................................................................۱۸

۱. ۳. ۱. د شعر لغوي پېژندنه.............................................................................۱۸

۱. ۳. ۲. د شعر اصطلاحي پېژندنه.............................................................................۱۸

۱. ۳. ۳. د شعر په اړه ذهنیتونه .............................................................................۲٤

۱. ۳. ۴. نظم او شعر.............................................................................۲۸

۱. ۳. ۴. ۱. د کلام یا د وینا بهرنی صورت.............................................................................۳٦

۱. ۳. ۴. ۲. د کلام یا وینا دروني جوړښت یا کیفیت.............................................................................۳٦

**۲. د شعر او شعریت توکي.............................................................................٤۳**

پیلیزه.............................................................................٤۳

۲. ۱. د شعر روح او کیفیت.............................................................................٤۳

۲. ۱. ۱. د شعر روح.............................................................................٤۳

۲. ۲. شعر او شعریت.............................................................................٤۸

۲. ۲. ۱. خیال او تخیل .............................................................................٤۹

۲. ۲. ۱. ۱. لغوي او اصطلاحي شننه ............ ٤۹
۲. ۲. ۲. صور ............ ٥۹
۲. ۲. ۳. فکر: ............ ٦٦
۲. ۲. ۳. ۱. لغوي شننه: ............ ٦٦
۲. ۲. ۳. ۲. اصطلاحي شننه: ............ ٦۷
۲. ۲. ۳. ۳. د فکر، صور او خيال توپير ............ ۷۰
۲. ۲. ۳. ۴. شاعرانه مفکوره ............ ۷۷
۲. ۲. ۴. عاطفه ............ ۷۹
۲. ۲. ۵. احساس ............ ۸۱
۲. ۲. ٦. آهنگ ............ ۸۸
۲. ۲. ۷. د شعر موسيقي او موسيقيت ............ ۹٤
۲. ۲. ۷. ۱. بهرنی موسيقيت ............ ۹۷
۲. ۲. ۷. ۱. ۱. قافيه ............ ۹۸
۲. ۲. ۷. ۱. ۲. رديف ............ ۹۸
۲. ۲. ۷. ۲. داخلي موسيقيت ............ ۹۸
۲. ۲. ۷. ۳. د وزن او آهنگ ارزښت ............ ۱۰۲
۲. ۲. ۸. الهام ............ ۱۰۷
۲. ۲. ۹. واهمه ............ ۱۰۹
لنډيز ............ ۱۰۹
**۳. د شعريت توکي ............ ۱۱٥**
پيليزه ............ ۱۱٥
۳. ۱. د تخييل او تصوير توکي ............ ۱۱٥
۳. ۱. ۱. تشبيه ............ ۱۱٦
۳. ۱. ۲. استعاره ............ ۱۲۰
۳. ۱. ۲. ۱. مرکبه يا تمثيلي استعاره ............ ۱۲۳

۳. ۱. ۳. تشخیصpesofetion ........................................ ۱۲٤
۳. ۱. ۴. پاراډاکس یا پاراډوکس........................................ ۱۲۹
۳. ۱. ۴. ۱. لفظي ........................................ ۱۲۹
۳. ۱. ۴. ۲. معنوي ........................................ ۱۳۰
۳. ۱. ۵. تمثیل (alegory) ........................................ ۱۳۱
۳. ۱. ۵. ۱. د تمثیلي تشبېه او تمثیل ترمنځ توپیر ........................................ ۱۳۳
۳. ۱. ۵. ۲. متل او تمثیل ........................................ ۱۳٤
۳. ۱. ۵. ۲. ۱. رمزي تمثیل........................................ ۱۳۵
۳. ۱. ۵. ۲. ۲. حیواني تمثیل........................................ ۱۳۵
۳. ۱. ۵. ۲. ۳. کیسه يي تمثیل (Exam Plum) ........................................ ۱۳۵
۳. ۱. ٦. حس آمیزي(Synesthesia)........................................ ۱۳۵
۳. ۱. ۷. حسن تعلیل........................................ ۱۳۷
۳. ۱. ۷. ۱. فلسفي یا منطقي........................................ ۱۳۸
۳. ۱. ۷. ۲. ادبي علت ........................................ ۱۳۹
۳. ۱. ۸. مدعاالمثل ........................................ ۱۳۹
۳. ۱. ۹. د تمثیل، مدعاالمثل او تشبېه توپیر ........................................ ۱٤۲
۳. ۱. ۱۰. تقابل (Contrast)........................................ ۱٤۳
۳. ۱. ۱۰. ۱. بشپړ........................................ ۱٤٤
۳. ۱. ۱۰. ۲. تدریجي........................................ ۱٤٤
۳. ۱. ۱۱. هنري صفت........................................ ۱٤٤
۳. ۱. ۱۲. د معادلې اسلوب ........................................ ۱٤٦
۳. ۱. ۱۳. استخدام........................................ ۱٤۷
۳. ۱. ۱۴. رنګ امېزي یا تدبیح........................................ ۱٤۷
۳. ۲. د شعریت تعقلي یا فکري برخه ........................................ ۱٤۸
۳. ۲. ۱. مرسل مجاز........................................ ۱٤۸

۳. ۲. ۱. ۱. د مرسل مجاز موخه ........................................... ۱۵۰
۳. ۲. ۲. کنایه......................................................................... ۱۵۰
۳. ۲. ۲. ۱. د کنایې قرینه............................................................ ۱۵۲
۳. ۲. ۲. ۲. د کنایې ډولونه.......................................................... ۱۵۳
۳. ۲. ۲. ۲. ۱. نږدې کنایه .......................................................... ۱۵۳
۳. ۲. ۲. ۲. ۲. لرې کنایه............................................................. ۱۵۳
۳. ۲. ۲. ۲. ۳. د رمز کنایه........................................................... ۱۵٤
۳. ۲. ۳. ادبي دود یا سنت (literary tradition)...................................... ۱۵٦
لنډیز ................................................................................. ۱۵۸
**۴. د شعر ډولونه................................................................... ۱٦۳**
پیلیزه.................................................................................... ۱٦۳
۴. ۱. عام ذهنیت ...................................................................... ۱٦۳
۴. ۲. خاص ذهنیت...................................................................... ۱٦۷
۴. ۲. ۱. شاعرانه نظم او شاعرانه نثر ............................................ ۱۷۲
۴. ۲. ۱. ۱. شاعرانه نظم..................................................................... ۱۷۲
۴. ۲. ۲. ۱. شاعرانه نثر ........................................................................ ۱۷۲
۴. ۲. ۱. ۳. موزون یا منظوم شعر ............................................... ۱۷٤
۴. ۲. ۱. ۴. منثور شعر ............................................................. ۱۷٤
۴. ۲. ۱. ۵. منثور نظم یا نثري نظمونه.............................................. ۱۷۵
۴. ۲. ۱. ۵. ۱. سجع لرونکی نثري نظم.............................................. ۱۷٦
۴. ۲. ۱. ۵. ۲. د کرښو او لیکنۍ بڼې له مخې........................................ ۱۷٦
**۵. د کیفیت له مخې د شعر ډولونه.................................................. ۱۸۳**
پیلیزه.................................................................................... ۱۸۳
۵. ۱. مخیل شعر ...................................................................... ۱۸۳
۵. ۱. ۱. مصنوعي......................................................................... ۱۸۳
۵. ۱. ۲. طبیعي........................................................................... ۱۸٤

٥. ٢. مفکر شعر ....................................................... ١٨٥
٥. ٣. مخیل او مفکر شعر.................................................. ١٨٥
٥. ۴. مصور شعر............................................................ ١٨٧
٥. ٥. مصور، مخیل او مفکر شعر ........................................... ١٨٨
لنډیز .......................................................................... ١٨٩
**٦. د شعر کیفي او معنوي جوړښتونه ............................................ ١٩١**
پیلیزه.......................................................................... ١٩١
٦. ١. رومانتیزم او رومانتیک شعر......................................... ١٩١
٦. ١. ١. رومانیت.......................................................... ١٩٢
٦. ٢. نېچرلیستي یا نېچرلیستیک شعر................................... ١٩٩
٦. ٣. سېمبول، سېمبولیزم او سېمبولیک شعر ............................ ٢١٢
٦. ٣. ١. عام یا قراردادي................................................. ٢١٦
٦. ٣. ٢. سیمه ییز ......................................................... ٢١٦
٦. ٣. ۴. خاص یا شخصي .................................................. ٢١٧
٦. ٣. ٥. د سېمبول ارزښت................................................ ٢١٩
٦. ۴. ادبي سنت (Literary Tradition) ........................................... ٢٢١
٦. ٥. اسطوره (Myth) او شعر یا اسطوره یي شعر ......................... ٢٢٢
٦. ٥. ١. د اسطورې اررښت............................................... ٢٢٥
٦. ٦. سېنټیمنټالیزم او شعر ............................................ ٢٤٠
٦. ٧. فورمالیزم او شعر................................................... ٢٤٣
٦. ٧. ١. د محتوا له مخې................................................. ٢٤٧
٦. ٨. نارسیسیزم (نرگسیت) او شعر........................................ ٢٥٠
٦. ٨. ١. ځان خوښونه...................................................... ٢٥١
٦. ٨. ٢. ځان ستاینه یا ځان درناوی (Self-esteem)........................... ٢٥٣
٦. ٨. ٣. د بل په تباهۍ کې ځان غټول یا بل ته په ټیټه سترگه کتل........ ٢٥٤

٦ .٨. ۴. خودي ............................................................ ۲۵٤
٦ .٨. ۵. ځان پېژندنه...................................................... ۲۵۵
٦. ۹. کلاسیزم او کلاسیک شعر ........................................... ۲۵۵
٦. ۱۰. ریالیزم او ریالیستیک شعر ........................................ ۲٦۱
٦. ۱۱. نهیلیزم او شعر........................................................ ۲۷۰
٦. ۱۲. ولسي شعر ............................................................ ۲۷۵
٦. ۱۲. ۱. د ولس شعر .......................................................... ۲۷۵
٦. ۱۲. ۲. طبیعي یا سوچه ولسي شعر........................................ ۲۷٦
٦. ۱۲. ۳. مصنوعي ولسي شعر ................................................ ۲۸۰
٦. ۱۳. ارمان او شعر.......................................................... ۲۸۳
٦. ۱۴. چاپېریال او شعر...................................................... ۲۹۳
٦. ۱۴. ۱. کولتوري چاپېریال................................................. ۲۹۵
٦. ۱۴. ۲. طبیعي چاپېریال ................................................... ۲۹٦
٦. ۱۴ .۳. مصنوعي چاپېریال................................................. ۳۰۰
٦. ۱۴. ۴. بشري چاپېریال..................................................... ۳۰۱
٦. ۱۴. ۵. ټولنیز چاپېریال.................................................... ۳۰٤
٦. ۱۴. ٦. سیاسي چاپېریال................................................... ۳۱۱
٦. ۱۴. ۷. مذهبي او روحاني چاپېریال ...................................... ۳۱۲
لنډیز ........................................................................ ۳۱٤
**۷. د شعر ژبه.................................................................. ۳۲۱**
پیلیزه......................................................................... ۳۲۱
۷. ۱. د شعر ژبه ................................................................ ۳۲۱
۷. ۱. ۱. عامه ژبه ................................................................ ۳۲۲
۷. ۱. ۲. خاصه ژبه................................................................ ۳۲۳
۷. ۲. شاعرانه ژبه................................................................ ۳۲۵

لنډیز ........................................................................327
**۸. موتيف او شعر ........................................................329**
پیلیزه........................................................................329
۸. ۱. موتيف ................................................................329
۸. ۱. ۱. د موتيف(Motive) لغوي شننه........................................329
۸. ۱. ۲. د موتيف اصطلاحي شننه ..............................................329
لنډیز ........................................................................339
**مأخذونه.....................................................................۳۴۱**

# سریزه

د شعر او شاعرۍ په باب په نوره نړۍ کې ډېر ژور او په زړه پورې بحثونه شوي دي او کېږي، په افغانستان کې له بده مرغه د شعر په اړه لا جدي بحثونو ته لاره نه ده هواره شوې. دلته له شعر و شاعرۍ سره لا هم سطحي چلن کېږي او نقش او مهموالی یې څنګه چې پکار ده، نه دی په ډاګه شوی. دا کتاب د همدغي تشې د ډکېدو په موخه لیکل شوی دی.

شعر پوهنه د شعر کیفي ارزښت او اغېز را ښیي، شعر را پېژني او په ټوله کې د شعر پېژندنې تیوري ده. شعر د طبیعت په توکیو کې نغښتې رنګیني ده، له دې رنګینۍ سره چې د شاعر ظاهري او باطني حواس ملګري شي، له درکه تر ادراک، دماغ، حافظې، مخیلې قوې، ذهني تجربې او نفسي کیفیت له ګډولې او فعالیته شعر را منځته کېږي.

شعر پوهنه همدغه کیفیت یا له لا شعوره را پیل شوی د خیال سفر له ادراکه تر اظهاره بیانوي.

په حقیقت کې د اشیاوو، اشخاصو، احساساتو، عواطفو، غوښتنو، غریزو او تمایلاتو خاطرې له شعور څخه په وتلو سره لاشعور ته ټېل وهل کېږي او هلته زېرمه کېږي، وروسته د ځانګړو رواني پېښو یا شرایطو له امله د بېرته راڅرګندېدو لپاره یوه لاره مومي، چې ډېر ځله د خوب په بڼه په تصور کې ځان راڅرګندوي، همدغه له لاشعور څخه راوتلې خاطرې که د تخیل د ځواک په وسیله خوندي شي او د یوې ارادي او شعوري هڅې په مرسته په لنډه او آهنګینه ژبه بیان شي، د بشپړولو لپاره یې تفکر او تخیل مرسته وکړي، نو په حقیقت کې موږ یو شعر تخلیق کړی دی.

شعر پوهنه مو له لاشعوره تر اظهاره پر همدغه رنګین او له کیف او اغېز څخه ډک سفر باندې پوهوي.

## د موضوع ارزښت

دغه سکالو یا موضوع موږ د ژوند پر هغې رنګینۍ پوهوي چې د طبیعت او انسان ترمنځ یې ښکلاییزه فضا برابره کړې ده. په دې فضا کې د ژوند رنګیني او هغه سفر چې ژوند په رنګینو کې را ښیي، هغه را باندې د تخییل او تصویر په بڼه ګوري، ارزښت یې په دې کې دی چې موږ د ژوند په خوږلنۍ او د ژوند په رنګینۍ پوهوي، یوې داسې دنیا ته

مو بيايي يا پر داسې ځمکې مو ور ګډوي او معلومات را کوي چې هغه په رنګونو کې د ژوند انځور دی.

د موضوع بل ارزښت په دې کې دی چې زما د معلوماتو له مخې په دې اړه تر اوسه کوم بشپړ او جامع اثر نشته، یو داسې اثر چې یوازې شعر پوهنې ته ځانګړی شوی وي. شعر پوهنه مو د شعر پر ارزښت پوهوي او د شعر درک او پرې پوهېدل اسانوي. له دې لارې له شعر سره د خلکو مینه زیاتېږي او د معیاري شاعرۍ په رامنځته کېدو کې مهم نقش لري.

زه باوري یم چې د شعر پوهنې له لارې به شعر او د شعر ارزښت وپېژندل شي او په دې سره به په ټولنه کې یو داسې کیفي او اغېزښندونکی بدلون را منځته شي چې د ژوند رښتینې څېره او خواږه به را باندې ووینې.

نو: د شعر پوهنې ارزښت په دې کې دی چې د شعر پر اغېز او ارزښت مو پوهوي، د ژوند رنګیني را پېژني او په ټولنه کې د شعر پر نقش او مهموالي خبره کوي.

## د موضوع پوښتنې

د هرې موضوع سپړنه او شننه ځانته خپلې پوښتنې لري، دغه پوښتنې په ټوله کې د موضوع روح او روان راښیي. پوښتنې په دوه ډوله دي:

### اصلي پوښتنې

۱. شعر پوهنه یعنې څه؟

۲. د شعر پوهنې ارزښت په څه کې دی؟

۳. شعر او شعر پوهنه پر ژوند څه کیفي او کمي اغېز ښندلی شي؟

۴. شعر د ټولنې په ذهني پرمختګ او ښکلا کې څه ونډه لري او شعر پوهنه د ټولنې د ذهني کچې په لوړولو کې څه اغېز ښندي؟

### فرعي پوښتنې:

۱. که شعر او یا شعر پوهنه په ټولنه کې نه وي، نو څه کمی را منځته کېږي؟

۲. شعر پوهنه په کومو بېلګو کې کیفي ارزښت را پېژندلی شي؟

۳. ایا پرته له شعره ټولنه پرمختګ نه شي کولی؟

۴. په شعر کې کوم جوهر پروت دی چې هغه دې ټولنه بسیا او هوسا کړي؟

۵. شعر د ټولنې او خلکو ترمنځ څه اړیکه ټینګولی شي؟

٦. شعر په ټولنه کې څه نقش لري؟

## د سکالو (موضوع) او کار ستونزې

د دې سکالو د لیکلو پر مهال لویه ستونزه دا وه چې د شعریت د توکیو په سپړنه کې د نظرونو اختلاف زیات و د نظرونو له اختلافه یوې پایلې ته رسېدل هم زیات فکر او هم وخت غواړي. ژوند په بیړه روان دی او پر دغو مسایلو د زیات فکر لپاره د ټولنې بې وسي او تنګلاسي مخه ډب کوي.

لا تر اوسه هم موږ د ډیجټلي کتابتونونو څښتنان نه یو، د یوه کتاب پیدا کول زیاته سرګرداني او وخت غواړي.

## د سکالو شالید

د شعر پوهنې په باب لومړنی بحث چې د انسان ذهن پلټونکی کوي، له سقراطه را پیلېږي. دی نېغ په نېغه د شعر په باب څه نه وایي، خو د ده هڅې او کارونه د شعر پوهنې او څېړنې لپاره یو فکر کېدای شي. لومړنی کس چې د شعر په باب یې خبره را واخسته هغه اپلاتون و، د اپلاتون بحثونو ارسطو دې ته اړ کړ چې د نقد روحیه را ژوندۍ کړي او دشعر په باب خپل نظر ولیکي. اپلاتون ارسطو ته د بحث او منطق ور پرانست. هماغه وو چې د شعر فن (پوتیکا - بوطیقا) یې ولیکه.

د شعر پوهنې په باب په پښتو کې د ګوتو په شمار لیکنې او ځانګړي کتابونه لیکل شوي دي، په دې برخه کې منظمو څېړنو او لا ډېر کار ته اړتیا ده.

دلته یو شمېر هغه اثار چې یا نېغ په نېغه د دې موضوع په اړه دي او یا ور سره څه نا څه اړخ لګوي در پېژنو:

## ۱. ادبي بحثونه

دغه کتاب د استاد اروابناد ګل پاچا الفت په قلم لیکل شوی دی چې په ۱۳۲۴ل کال کې د پښتو ټولنې له خوا په کوچنۍ کچه په ۱۳۲مخونو کې چاپ شوی دی او پر همدې کال یې د خوشال‌خان ادبي جایزه هم ګټلې ده.

په دې کتاب کې پر نورو بحثونو سربېره د شعر ارزښت، اغېز او ودې په باب هم بحثونه شوي دي. همدا راز استاد الفت شعر د نورو شاعرانو له نظره هم را پېژندلی دی. د شعر پوهنې په برخه کې يې معلومات اغېزناک دي.

## ۲. شعر او ادب

شعر او ادب د شعر په باب د ګڼو ليکوالو ليکنې په خپله لمن کې را اخلي. د شعر پېژندنې په باب دغه تيوريکي کتاب چې دبېلابېلو ليکوالو ليکنې په کې خوندي دي، شعر راپېژني. د ليکنو دغه ټولګه د استاد عبدالله بختاني خدمتګار له خوا راټوله شوې او پر ۱۳۳۳ل کال خپره شوې ده.دغه کتاب پنځه برخې لري.

د کتاب منځپانګه د شعر د کيفيت په باب د بېلابېلو شعر پېژندونکيو نظرونه دي. دوی د شعر په باب خپل تحليلونه وړاندې کړي دي چې د شعر پېژندنې د تيورۍ په برخه کې ښه ماخذ کېدای شي.

د شعر په باب د دغه کتاب بحثونه په خپل مهال کې د زياتې قدردانۍ وړ وو، د دې کتاب بحثونو لږ تر لږه د شعر پوهنې ور پرانست او ليکوال يې د شعر په باب د خپلو نظرونو څرګندولو ته را وبلل.

## ۳. د ادب د تيورۍ اساسونه

د ادبياتو په باب دغه تيوريکي اثر سرمحقق دوست شينواري ليکلی او په ۱۳۶۵ل د چاپ او خپرونو دولتي کمېټې له خوا په ۳۷۵ مخونو کې په منځنۍ کچه خپور شوی دی. په دې کتاب کې د ادب په باب نظرونه څېړل شوي دي چې يو شمېر بحثونه يې د ادب روح او ماهيت راښيي. په دې کتاب کې هم د شعر د ماهيت او جوړښت په باب داسې بحثونه ځای شوي دي چې هغه له شعر پوهنې سره مرسته کولی شي.

## ۴. د ادب مطالعه

دغه کتاب مشهور اردو ژبي ليکوال اطهر پرويز ليکلی دی. عبدالرحيم ځدراڼ پښتو ته راژباړلی او پر ۱۳۶۵ل کې د غني خان او اجمل خټک د زوکړو د کاليزو د سيمينار په وياړ د قومونو او قبايلو چارو وزارت د خپرونو رياست په ګستتنر بڼه خپور کړی دی. ټول ټال ۱۳۴مخونه لري.

په دې کتاب کې پر نورو موضوعګانو سربېره د شعر او ادب په باب ځانګړي بحثونه شوي دي. د دغو بحثونو ځینې برخې د ادب له فلسفې سره اړیکه لري.

### ۵. شعرونه او نقدونه

شعرونه او نقدونه د محمد زرین انځور په قلم هغه لیکل شوی اثر دی چې پر ۱۳۶۸ ل کال د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا خپور شوی دی.

په دې کتاب کې د شعر پر ښکلاییزو اړخونو بحث شوی دی او همدارنګه پر هغو نظمونو هم خبرې لري چې شاعرانه جوهر نه لري.

### ٦. شعرپېژندنه

دغه کتاب کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمدصدیق روهي لیکلی او څو ځلې په بېلابېلو وختونو کې خپور شوی دی.

شعر پېژندنه د څومره والي له مخې ووړ کتاب دی خو د کیفیت او بحثونو له مخې مهم اثر دی. د شعر پېژندنې په برخه کې داسې معلومات وړاندې کوي چې د شعر کیفیت او ارزښت را پېژني. دا چې کومې وینا ته شعر ویلی شو او کومې ته نه؟ همدې پوښتنې ته تر یو حده دغه کتاب ځواب وایي. په دې کتاب کې دشعر پر ارزښت اواهمیت تیوریکي او فلسفي بحثونه شوي دي.د شعر د ښکلاییزو اړخونو او په ټوله کې شعرپېژندنې په برخه کې لوړ ماخذ دی.

### ۷. د پښتو شعر هندسي جوړښت

دغه کتاب د ښاغلي استاد محمد اسمعیل یون په قلم لیکل شوی دی او پر ۱۳۷۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا خپور شوی دی، چې پکې د پښتو شعر بېلابېل دیواني او ولسي ژانرونه را پېژندل شوي دي. په دې کتاب کې ټول منظوم کلامونه د دودیزو بحثونو له مخې شعر ګڼل شوي دي. د شعر لفظي جوړښت را پېژندل شوی دی. لیکوال هڅه کړې چې ددغو ژانرونو پېژندنه د قافیه یي او مسریيز جوړښت له مخې په کرښو کې راوښيي. دې کرښو ته یې هندسي نوم ورکړی دی. په دې کتاب کې منځپانګیز او لفظي جوړښتونه سره نه دي بېل شوي.

## ۸. جدید نظم په پښتو کې

دا د پروفیسورې سلمی شاهین دپي ايچ ډي ليکنه ده، چې پر ۲۰۰۲ ز کال جدون پرنټنګ پرېس له خواخپره شوې ده. په دغه کتاب کې د جديد ترنامه لاندې د پښتو نظم منځپانګه څېړل شوې ده. دمنځپانګې له مخې يې اوسني نظمونه راسپړلي دي. په دې کتاب کې د شعر په باب څنګزن بحثونه شوي دي، خو زياتره بحثونه يې د نظم په باب دي.

## ۹. د لونګو دريځې

د لونګو دريځې د صديق الله بدر هغه تاليف دی چې پر ۱۳۸۷ ل کال د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکې ټولنې له خوا خپور شوی.

په دې کتاب کې، چې زياتره د بحث او تبصرې بڼه لري، د بېلا بېلو شاعرانو پر شعرونو د ليکوالو نظرونه را اخيستل شوي دي. ځينې بحثونه يې په شعرپوهنه کې مرستندوی تمامېدای شي.

## ۱۰. پښتو بدلمېچ يا پښتو شعر څنګه جوړېږي؟

دغه کتاب پوهاندډاکترمجاوراحمد زيار ليکلی دی او پر۱۳۸۹- ل کال د دانش خپرندويې ټولنې له خواخپورشوی دی. د دغه کتاب غوښنه برخه د نظم پر عروضي جوړښتونو بحث ته ځانګړې شوې ده، خو ددې تر څنګ د شعر د ښکلا بحثونه هم لري. دلته هم د پخوانۍ تيورۍ له مخې پر منظوم شعر بحث شوی دی.

## ۱۱. منظوم انځورونه

دا ددې کرښو د ليکوال (ازمون) هغه کتاب دی چې پر ۱۳۸۹- ۲۰۱۰ کال دختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکې ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې د انځورونو پر پېژندنې سربېره په لومړي څپرکي کې د پښتو نظم پر پېژندنې او ډولونو خبرې شوې دي. په دې کتاب کې پر نظم سربېره د شعر پر کيفي اغېز او ارزښت هم بحث شوی دی.

## ۱۲. جادوګر هنر

دغه کتاب اسدالله غضنفر ليکلی دی، چې پر ۱۳۹۳ل کال د مومند خپرندويې ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې د ليکوال خورې ورې ليکنې را ټولې شوې دي چې ګڼې هغه يې د ادب په تړاو دي. د شعر د ارزښت، ښکلا او کيفيت په باب ليکنې هم

په کې را نغاړل شوي دي. دا اثر د شعر پېژندنې په برخه کې په زړه پورې بحثونه لري، چې د شعر پوهنې په برخه کې ترې ګټه اخیستل کېدای شي.

### ۱۳. شعرستان

شعرستان د ډاکتر احسان الله درمل په قلم لیکل شوی هغه اثر دی چې د شعر د ارزښت او کیفیت په باب څېړنیز او تیوریکي بحثونه لري. دغه کتاب په ۱۳۹۵ل کال کې د بېنوا فرهنګي ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې یوازې پر منظوم شعر بحث شوی دی او د منظوم شعر ښکلاییز اړخونه څېړل شوي دي. دا یو داسې څېړنیز اثر دی چې په منظمه او منسجمه توګه د شعر په باب بحثونه را اخلي. هم تیوري ده او هم څېړنه.

### ۱۴. څراغ

دغه کتاب د اسدالله غضنفر د بېلابېلو لیکنو ټولګه ده چې پر ۱۳۹٦ل کال د مومند خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

په دې کتاب کې پر نورو لیکنو سربېره د ادب سپړنې او ماهیت څرګندولو په اړه یو لړ لیکنې شوې دي، په دغو لیکنو کې د ادب‌تیورۍ تر څنګ د ادب فلسفي بحثونه په عملي بېلګو کې وړاندې شوي دي.

### ۱۵. ادبستان

ادبستان د پوهندوی ډاکتر اجمل ښکلي د بېلابېلو ادبي او ژبنیو لیکنو ټولګه ده. دغه ټولګه په ۱۳۹٦کال کې کلایسک خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوې ده. د لیکنو په دې ټولګه کې پر نورو بحثونو سربېره د شعر په باب خبرې او نظرونه هم پکې وړاندې شوې دي، د شعر پېژندنې په برخه کې یو ښه اثر دی.

### ۱٦. ادبي تیوري

دا کتاب پوهاند جمشید رشیدي لیکلی دی. په دې کتاب کې زیاتره بحثونه د ادب‌تیورۍ دي. دغه کتاب پر ۱۳۹٦ل کال په کابل کې خپور شوی دی. داهم یو تدریسي کتاب دی. پر نورو ادبي بحثونو سربېره پکې د شعر په باب هم یو نیم بحث ځای شوی دی.

### ۱۷. د شعر تیوري

دا د سید اصغر هاشمي په قلم لیکل شوی کتاب دی چې د شعر د جوړښت او کیفیت په باب بحثونه لري، دغه کتاب پر ۱۳۹۶ کال خپور شوی دی، په دې کتاب کې د شعر پر تاریخي شالید او همدارنگه په بېلابېلو دورو کې د شعر پر ارزښت خبرې شوې دي.

### ۱۸. ادب تیوري

دا د پوهاند ډاکتر لعل پاچا ازمون تدریسي کتاب دی چې پر ۱۳۹۷ل د ختیځ خپرندویې ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې زیاتره بحثونه د ادب‌تیورۍ دي. د شعر په باب هم پکې بحثونه شته چې د شعر پېژندنې او شعر پوهنې په برخه کې یو ماخذ گڼل کېدای شي.